
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

کاندید اکادمیسین سیستانی ۲۰۲۶ /۱۱/۱۷

دځوان لیکوال او فرهنګي نوښتګر ښاغلی شاغاسي حُسن بارک څخه د مننې څرګندونه



په ډېر مننې سره، ستاسو د دی ارزښتناک اثر چی بیله شکه ، ځوان نسل ته یو فرهنګي او علمي خدمت دی د زړه له کومې مننه کوم.

بې له شکه، د هېواد د علمي، فرهنګي او ادبي شخصیتونو پېژندنه، د هغوی د اندونو، اثارو او خدمتونو راڅرګندول او د ټولنې په تاریخي حافظه کې د دغو ارزښتونو ثبتول یوه ستره او تلپاتي رسالت دی. د دې رسالت ترسره کول پراخې پوهې، ژورې کتنې، فرهنګي ژمنتیا او د ټولنیز مسؤلیت احساس ته اړتیا لري.

دا چې تاسو د یوه ځوان افغان پوه او فرهنګي شخصیت په توګه، د خپلې علمي وړتیا او استعداد یوه برخه د افغانستان د علمي او فرهنګي شخصیتونو د پېژندنې او د هغوی د فکري او فرهنګي میراث د ساتنې په لاره کې کارولې ده، د ستاینې او درناوي وړ هڅه ده.

زه ستاسو دغه فرهنګي نوښت او څېړنیز زیار نه یوازې د علم او فرهنګ د شخصیتونو پر وړاندې د درناوي او مینې نښه بولم، بلکې دا د افغانستان د فرهنګي هویت د ساتنې او راتلونکو نسلونو ته د فکري میراث د لېږد په لاره کې یو ارزښتناک ګام هم ګڼم.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لوی خدای دې تاسو ته روغتیا، لا زیاتې بریاوې او د علمي او فرهنګي خدمتونو په دې ارزښتناکه لار کې د لا ډېرو هڅو او بریاوو توفیق درکړي. هیله لرم چې ستاسو پیاوړی قلم به تل د پوهاوي، حقیقت موندنې، تاریخلیکلو او د دې لرغوني هېواد د علم او فرهنګ د ودې او غوړېدو په خدمت کې وي.

د زړه له کومې مننې سره

کاندید اکاډمیسین سیستاني

دشاغاسي حُسن بارک دکتاب مقدمه

﴿د کاندید اکاډیمېسن محمد اعظم سیستاني ژوند، آثار او افکار﴾

دا خو د لمر په څېر روښانه حقیقت دی، چې استاد محمد اعظم سیستانی د لوی ابدالي احمد شاه بابا په قیادت د افغانستان د معاصر تاریخ، بیا په ځانګړې توګه د شاه غازي امان الله خان په زعامت د افغانستان د استقلال د استرداد د تاریخ یو بې جوړې محقق، لیکوال او مؤرخ دی، چې په پار یې باید د هغه د خدماتو پالنه او ستاینه وشي.

د همدغه مسئولیت له مخې مې تېر کال د استاد په اړه د همدې اثر څېړنه پیل کړه. که څه هم زه له ډېرو کلونو ځخه د استاد د نامه سره بلد وم، خو د استاد سره په اوله پلا زما اړیکه له (۲۰۰۶ز) کال ځخه هغه مهال پیل شوه، چې استاد په ځینو افغان ویب پاڼو کې د «استدراک بر مقالهٔ خاندان لوېناب شیردل خان بارکزائی» تر عنوان لاندې مقاله خپره کړې وه او په پای کې یې غوښتنه کړې وه، چې د لوېناب صاحب د «شاغاسیانو» د خاندان او کورنۍ غړي دې د (بارکزو سردارانو د شاغاسیانو د کورنۍ) د معلوماتو په تکمیل او بشپړۀنه کې مرسته ورسره وکړي.

نو هغه مهال ما په اول وار د استاد سره اړیکه ونیوله او د یاور محمود خان شاغاسي او زما د پلار، د نظامي تعلیم او تربیې د استاد، ډګروال عبدالمالک خان شاغاسي هغه یادښتونه چې په کتبي او ورثه یي توګه تر ما پورې رارسېدلي وو، ورسره شریک کړل او په ترڅ کې مې د استاد سره هم رسماً پېژندګلوي وشوه. د هماغه اول وار تماس او بیا د تېر کال د هغه تماس تر منځ چې د استاد سره مې د هغه په اړه د یوه کتاب د څېړنې د پیل یادوۀنه وکړه، د شلو کالو د مزل او بېلابېلو تماسونو او د کتابونو د چاپ او تاریخي او ادبي بانډارونو وخت او مهال د هرې ورځې په تېرېدو سره، استاد ته زما احترام ډېراوه او ما داسي احساس هم وکړ چې د شفقت، الفت او احترام دغه احساس دوه اړخیزه بڼه درلوده.

په عین حال کې، کله چې مې د استاد په اړه د کتاب د څېړنې د پیل خبره د ځینو فرهنګیانو سره شریکه کړه، د استاد په څېر، هغوی هم ډېر خوشحاله شول او د دغه کار د اړتیا او ارزښت په اړه یې راسره خپلې مشورې هم شریکې کړې. نو د تېر کال د لومړنیو میاشتو ځخه مې د دغه اثر د پشپړولو څېړنه پیل کړه. خو دا یوه ساده څېړنه هم نه وه، چې په لږ وخت کې به په اسانۍ سره بشپړه شوې وه. ځکه چې د استاد د شخصي ژوند او کورنۍ شالید په اړه معلومات باید په دقیقه توګه یا پلټل شوي وو او یا د استاد ځخه پوښتل شوي او په شفاهي او کتبي توګه تړلاسه شوي وو.

د استاد د افکارو او آثارو په برخه کې خورا ډېر وخت او زیار ته اړتیا وه، ځکه چې له یوې خوا باید د استاد ځینې مقالې راټولې شوي وې، له بلې خوا باید د استاد د نقد او نظر ټولې مقالې او رسالې که هغه په چاپي مجلو کې وې او که په بېلابېلو ویب پاڼو کې وې؛ باید په مرتبه توګه تنظیم، ترتیب او تذکُر شوي وې.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سربېره پر دې بايد د استاد ټول چاپېي آثار لومړی راټول شوي وو او بيا ټول لوستل شوي وو او بيا د هغو ټولو آثارو منځپانګه او ځانګړتيا په کتاب کې په مرتبه او موضوعي توګه ځای پر ځای شوې وه، چې په دې برخه کې تر ټولو دېپر وخت، دقت او زيار ته اړتيا وه.
تر دې ورها خوا، د کتاب وروستۍ برخه د استاد په اړه د نورو پوهانو د نظرياتو راټولول و، چې تر دېره يا په آنلاين توګه او يا هم په چاپې توګه په اسانۍ سره لاسرسی ورته وشو، خو بيا يې هم انتظار، انسجام او په دقيقه توګه مرور غوښت. له ټېکه مرغه د کانديد اکاډيمېسن محمد اعظم سيستاني؛ د هغه د افکارو او آثارو او د هغه په اړه د نورو پوهانو د نظرياتو د څېړنې د بشپړولو په برخه کې ما تر خپله وسه حوصله ازمايي وکړه، چې په پايله کې يې دغه اثر ورځخه جوړ شو.
دغه کتاب په درو څېرکيو (فصلونو) کې ليکل شوی دی. اول فصل يې د استاد محمد اعظم سيستاني زوکړه او کورنی شاليد، يعنې ژوندليک او مندرج عناوين تشکيلوي. دويم فصل يې د استاد محمد اعظم سيستاني افکارو او آثارو او مندرجو عناوينو ته ځانګړی شوی دی؛ چې د استاد ټول چاپ شوي آثار په موضوعي او مرتبه توګه پکښې ځای پر ځای شوي دي. د کتاب وروستی او درېيم فصل د استاد د علمي او فرهنګي خدماتو په اړه د نورو پوهانو نظرياتو ته ځانګړی شوی دی، چې پکښې د استاد په اړه د بېلابېلو پوهانو نظريات راټول او ځای پر ځای شوي دي.
شايد چې دغه حاضر اثر د کانديد اکاډيمېسن محمد اعظم سيستاني د ژوند، د هغه د افکارو او د هغه د آثارو د توضيح او تشريح له پاره بسنه او کفايت ونه کړي او ښايي چې د استاد د حق د اداينې هڅه، د هغه په ژوند کې، نه يوازې د افغان فرهنګيانو او عامو افغانانو له خوا، بلکې د دولت له خوا، د هغه د ستاينې او پالنې پر مټ وشي؛ خو ما خپله وسه وکړه.
نو په پای کې د دې خبرې يادوٴنه اړينه ګڼم؛ چې کانديد اکاډيمېسن محمد اعظم سيستانی، د يوه استاد او يوه پياوړي تاريخپوه په توګه د تېر، حال او راتلونکې تاريخ د يوه تګړه څېړونکي او د يوه بې بديله ليکوال په حيث زما د دغه حاضر اثر تر هڅونې او ستاينې، دېر حقدار دی. نو بايد نه يوازې د تاريخ دوسته، هنر پرورہ او فرهنګ دوسته افغانانو له خوا، بلکې د دولت له خوا د ده د خدماتو په پرتله ونازول شي. خو د «کِمِ ما و کَرَم شما» د مقولې په تناسب زه د استاد په باب د خپل دغه اثر «دروند مؤرخ» له اړينې او په خپل وار سره بې ساړې څېړنې د هڅې څخه د رضايت او ويار د احساس سره مل، خپل دغه کتاب لومړی استاد، تاريخپوه، ليکوال او دورند مؤرخ؛ کانديد اکاډيمېسن محمد اعظم سيستاني ته او وروسته ټول افغان ولس ته وړاندې کوم. هيله لرم استاد او ټول افغان ولس ته د منلو وړ وګرځي.
مننه او درناوی.
حُسن بارک شاغاسی
۳۰ غبرګولی ۱۴۰۵ل/ دارالامان – کابل

آرشيف: مقالات کانديد اکادميسن سيستانی

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ